DATE:

(M) (T) (W) (T) (F) (S)

د خوشحال په شاعرۍ کښې د آزادۍ، پښتونولۍ او ټولنیز څه رنګه ځرګندونه ده؟

## د خوشحال بابا پیژندګلنه:

خوشحال بابا نوم خوشحال خان خټک وو او په 1613ء کښې د شهباز خان کره په اکوړې کښې پیدا شوے وو۔ خوشحال بابا د ښکار سره ډیر شوق وو او په دغه وجې ئې تعلیم هم سر ته نه کړې شو خو بیا هم د خپل تجربې او مشاهدې په رڼا کښې د لویو عالمانو په صف کښې لوړ اوچت مقام لرلې۔

## د خوشحال بابا ابتدائي ژوند:

خوشحال بابا ته په میراث کښې درې څیزونه ملاؤ شوي وو۔

1. سرداري۔
2. شجاعت یعنې بهادري۔
3. د پښتو مشرواليِ۔

په دې وجه خوشحال بابا د مغلو سره ډیر تعاون کړے وو ځکه چې د پلار او نیکه د مشروالي په وراثت کښې ملاو شوې وو۔ خو بیا د رنتمبور قید نه واپسۍ سره د مغلو خلاف جنګ او د پښتون قوم یو والي کوششونه شروع کړل۔

## د خوشحال بابا شاعرۍ کښې د آزادۍ رنګ

خوشحال بابا فطري توګه باندې آزادي پسند او خوددار انسان وو ولې په دې وجه ئې ترډیره وخته د مغلو د حکومت لاندې ژوند نه تیرو۔ او د آزادۍ او خوددارۍ دې صفتونو په وجه ټول عمر ئې پښتون قام ته هم دغه درس ورکړے دے چې د مغلو سره دوستي چرته هم نه شي کامیابیدې۔

پښتون به مغل سره دوست نه شي

خوشحال ئې ده وسینه دا اکرامونه

په دې رنګه خوشحال په خپله شاعرۍ کښې د پښتون قوم ته دا څرګنده کړې ده چې د مغلو اکرامونه د دوستۍ نښه نه ده بلکه د جدائۍ او د نااتفاقۍ سبب دے. او هم په دې وجه ئې کله چې د مغلو مشروالي ډېر ښه وه نو داسې ئې د خپلو جذباتو اظهار کړے وو.

د مغلو منصب مې پرېښود هسې خوښ یم
لکه خلاص ~~شي~~ بنده له بندیوان شي

د دې نه ښکاري چې خوشحال نه خپله بلکه د ټول قوم د پاره آزادي غوښته وه. او په دې وجه ئې د ننګ او د غیرت نه ډک درسونه پښتنو ته ورزده کړي دي.

د افغان په ننګ مې اوتړله توره
ننګیالي د زمانې خوشحال خټک یم

# د خوشحال بابا شاعرۍ کښې د پښتونولۍ رنګ

خوشحال بابا د ننګ، غیرت او پت صرف شاعري نه ده کړې بلکه په خپل ژوند کښې عملي طور باندې د دې مظاهره کړې ده. او دا هم یاد ساتل پکار دي چې خوشحال بابا خپله پښتونولي صرف د خپل ژوند حصه نه جوړول غوښتل بلکه پښتون قوم رهبرۍ او مشروالۍ په توګه ئې خپل حق ادا کړے دے.
د خوشحال پښتونولي د حسن سلوک، همدردۍ، د رښتیا ویلو او د دروغو نه ځان ساتلو سره سره د رواداري او اتفاق هم درس ورکوي.

خلقو سره نیک خواهۍ باره کښې داسې وائي:

چې د خلقو نیک خواهي لري په زړه کښې
مبارک ئې شه بادشاهي لري په زړه کښې

د حسن سلوک او همدردۍ باره کښې څه داسې وائي

هر چې ښه زړه کړې هغه کړه
خو چې زړه د چا ویروې هغه مه کړه

DATE:

د خوشحال ژوند د حق ګوئی یو عملي نمونه وه:

چې دروغ تر خولې اوباسي کله خوله ده
چې رښتیا تر خولې اوباسي خوله هغه ده

د محنت کولو باره کښې وائي:

که محنت کا په اخلاص د زړه ژړۍ ځامن یم
که سرې په خپل مقصد نه شي کامران

# د خوشحال شاعرۍ کښې د ټولنیز شعور

کله چې مغلو د زرو او د زور بالیسۍ جوړه کړه نو خوشحال پښتون قوم خبردار کړو چې د مغلو دوستۍ صرف د یو مقصد له وي. ځکه چې د خوشحال د ژوند تجربې او مشاهدې نه هغه د زړه کړه کړې وه چې د مغلو قول او فعل کښې تضاد دے. خو بیا هم افسوس چې په دې کړې دے چې پښتون قوم د منصب لوه د انعام په لالچ کښې د مغلو په فریب کښې راغلي او داسې د خوشحال د پښتون قوم یو والي هغه مقصد نیمګړے پاتې شو.

هره لاره د پښتون تر مغله ښه ده
اتفاق ورسره نشته دېر ارمان

د مغلو په انعامونو نازېدلو باره کښې وائي:

پښتانه لره لوی عیب دے که ئې ګوري
چې نازېږي د مغلو په انعامونو لقبونو
لسو نه شول پښتانه په منصبونو خدایه ما ژغورې له داسې منصبونو

وائي د انعامونه یو دام دے.

دا منصب دا انعامونه
واړه زندې واړه دامونه

د خوشحال ژوند د تکلیفونو او مصیبتونو سره په دې غم کښې تېر شو چې پښتون قوم کښې اتفاق پیدا نه کړے شوه او پښتونادر په در دے او خپل ځان نه پېژني په دې وجه خوشحال خپل کورنۍ کښې خپل ګوئی حرام نه هم بدې ژرې وګلې دی او بد بد ارماني دنیا نه په 20 ورځ 1689ء کښې د دنیا نه لاړ.

DATE: ______ M T W T F S

# خلاصه

مختصراً دا چې د خوشحال شاعرۍ د آزادۍ نه جدا رنګ لري او په دې رنګ کښې د هغه د پښتونولۍ او د پښتنيز شعور ډېر دے برېښي بلکه د دې کوشش دوران کښې د قوم بيدارولو او د رهبرۍ حق ادا کولو سره سره د معاشرتي (پښتنيز) خرابيانو نه ځان ساتلو طريقې هم ښودلې دي.